DATE: ________ DAY: ________

سوال: په پښتو ژبه او ادب د خوشحال خان بابا په احساناتو یو جامع مضمون او لیکئ.

## پېژندنه:

زه خوشحال د شهباز خان یم چې نوم یې په کال په کال
شهباز خان د یحیٰ خان وو چې بل نه وو هسې زوان

یحیٰ خان د اکوړي وو چې په توره شو سلطان 1)
د هجرت زر دوه ویشت سن وو چې زه راغلم په جهان

په دې شعر کښې خوشحال بابا موږ ته د خپل آبا و اجداد باره کښې خبر راکوي. د دې شعر نه موږ ته معلومېږي چې د خوشحال بابا د پلار نوم شهباز خان وو او د نیکه نوم یې یحیٰ خان وو او دا چې خوشحال خان په ۱۰۲۲ھ کښې پیدا شوی وو. د خوشحال بابا پلار، شهباز خان په اکوړي کښې د مغلو منصب دار وو. په دې مشرۍ کښې هغه د ډېرو پښتنو قومونو سره هم جنګونه کړي دي کوم کښې چې یوسفزي قبائل ذکر دي. شهباز خان چې کله په ۱۰۵۰ھ کښې وفات شو نو د مشرۍ پګړۍ د خوشحال ته ور په سر شوه کله چې هغه د پلار مشر زوی وو. په دې مشرۍ کښې خوشحال هم د مغلو د پاره پښتنو قومونو سره ډېر جنګونه کړي. خوشحال خان خپله هم وائي چې:

DATE: DAY:

د مغل دربار ما ګوري وځلي
پښتو به راته کړي جبري ګنځلي

د خوشحال بابا په پښتو ژبه او ادب باندې هم ډېر زیات احسانات دي، هم دغه وجه ده چې خوشحال خان بابا ته د پښتو ادب پلار هم ویلی کیږي.

## په پښتو ژبه باندې د خوشحال خان احسانات:

په پښتو ژبه او ادب باندې د خوشحال بابا بې شمیره احسانات دي، څلور سوه کاله تېر شو نه پس هم تاریخ د خوشحال خان په شان جامع او همه ګیر شاعر او نه لیدو، د ادب داسې اړخ نیشته کوم کښې چې هغه پښتو د نورو ژبو سره شانه په شانه او درولې نه وه، او عجیبه خبره داده چې خوشحال خان د ادب هر میدان کښې بې مثاله وو.

که نظم که د نثر که د خط دی
په پښتو ژبه مې حق دی بې حسابه

نه په ژبه کښې کتاب وو نه یې خط وو
دا دي ما کښې تصنیف کړل سو کتابه

DATE: ________ DAY: ________

هم دغه رنګ یوځل ئې کښې وائي،

په پښتو باندې مې علم بلند کړ
د خبرو ملک مې فتح په سمند کړ

لو په دال او په ماضي کښې داسې نه وو
چې ښکاره یې د خبرو راته فن کړ

د میرزا دیوان مې وماڼه په ګوډي
مسخره مې ارزاني قیمتي زمند کړ

که دولت وو که واصل وو که دانا وو
په خبرو مې د هر یوه ربشخند کړ

په دې شعر کښې خوشحال خان بابا فرمائي چې ما پښتو ژبه په لوړو درجو ته ورسوله. مانه مخکښې که ارزاني تېر شوي دي، که دولت خان تېر شوي دي او که واصل تېر شوي دي نو هغوی ما د بر شاته پرېښودل. هغه وائي چې د خبرو ډګ ما په پښو ګل نلقوتا ښکاره کړې چې نورو نه ګوړ ډنګه مخشلي کښلي.

## د خوشحال خان بابا په پښتو نثر کښې خدمات:

د خوشحال خان صرف شاعرۍ کښې نه

DATE: ________ DAY: ________

بلکې په نثر کښې هم ډېر تالیفات دي.
ویلې کیږي چې خوشحال خان د 200 نه هم
زیات کتابونه لیکلي دي، د هغه د ځینو
مشهورو کتابونو نومونه دا دي.

کلیات خوشحال خان خټک
- فراق نامه
- سوات نامه
- فرح نامه
- طب نامه
- دستار نامه
- د سورة یوسف تفسیر

## د خوشحال بابا د شاعرۍ ښکاره اړخونه:

د هر شاعر د شاعرۍ یو سو ښکاره اړخونه
وي، دغه رنګه د خوشحال خان د شاعرۍ هم
ښکاره اړخونه دي کوم چې کښې شامل دي:

- قامي شاعري
- رزمیه شاعري
- عشقیه شاعري
- اخلاقي شاعري

## نتیجه:

خوشحال بابا د پښتو یو لوی شاعر تېر
شوی دی، د هغه په پښتو ژبه باندې ډېر

DATE: ______ DAY: ______

احسانات دي ځکه چې مخه د پښتو ادب
په هر پلو اړخ کښې د بې نهايت کار کړې
دی۔ خوشحال بابا پښتو ته يو نوې پهچان
ورکوه هم دغه وجه ده چې مخه ته د پښتو
ادب پلار وېلې کېږي۔